## مطبوعاتي اعلاميه

## د حزب التحریر د یوه غړي، ډاکټر سالم الجرادات نیول

په اردن کې استبدادي رژیم له لوی اختر وړاندې او د دې سپېڅلو ورځو په جریان کې د حزب التحریر یو غړی، ډاکټر سالم الجرادات ونیوه، پرته له دې چې رژیم د دې سپېڅلو ورځو حرمت وساتي او د پلار په اړه یې اندېښنه وکړي، ځکه چې له ډاکټر سالم پرته یې ناروغ پلار بل څوک نه لري، چې پر هغه پاملرنه وکړي.

د اردن رژیم له هغې بې عدالتی راضي نه و، چې مخکې یې له ډاکټر سالم الجرادات سره کړې وه، ځکه چې هغه څو ځلې او د څو کلونو لپاره ونیول شو، وروستی ځل زندان یې په ۲۰۱۷م، کې ۳ کاله و او ان د قرآن کریم په تفسیر کې له دوکتورا اخیستو سربېره له خپلې تخصصي دندې هم محروم شو. رژیم له دې هم راضي نه شو، له همدې امله یې په دې سپېڅلو ورځو کې هغه بیا ونیوه او پر هغه یې د دروغو تورونه پورې کړل او د «هېواد امنیت محکمې» ته یې وسپاره.

ډاکټر سالم د رښتیا ویلو یوه بېلګه وه، لکه څنګه چې رسول صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«أَفْضَلُ الْجِهَادِ كَلِمَةُ حَقٍّ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ»**

*__ژباړه:__ غوره جهاد، د ظالم سلطان په حضور کې د حق کلمه ده.*

ټول هغه کسان چې له ډاکټر سالم سره وو، د هغه د مکرر تکرار په اړه پوهېږي، چې شاعر ویلي و: *«پر هغه څه چې زه پوهېږم او اړ یم هغه وڅښم... د ذلت جام مې په وس نه دی پوره»*

د اردن خلک به خپل له شرافت څخه ډک دریځ له کاراک ښار څخه د یهودیانو د ایستلو پر وړاندې هېڅکله هېر نه کړي.

د دې رژیم یوازینۍ اندېښنه د دې هېواد د رښتینو او با وفا خلکو نیول دي. د خلکو پر ګټو او معیشت، تحصیلاتو او روغتیا د پاملرنې پر ځای، دوی د هغه چا د غږ غلي کولو او زندان ته اچولو په هڅه کې دي چې له دوی سره محاسبه کوي.

مګر د دې لپاره چې د اردن رژیم پوه شي، د دعوتګرانو نیول دوی له دعوت څخه نه شي منصرف کولای، ځکه دوی چمتو دي چې په دې سپېڅلې لاره کې خپل هر څه له لاسه ورکړي او د دې امر لپاره پیاوړي او ګړندي ګامونه پورته کوي.

**[وَسَيَعْلَمُ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَيَّ مُنقَلَبٍ يَنقَلِبُونَ]** [شعرا: ۲۲۷]

*__ژباړه:__ او ظالمانو ته به ډېر ژر معلومه شي چې دوی له کوم سرنوشت سره مخامخ کېږي.*

**د حزب التحریرـ ولایه اردن مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۲ هـ.ق، د ذوالحجې ۱۱مه**

**۲۰۲۱م، د جولای ۲۱مه**

**د صدور ګڼه: ۲۷/ ۱۴۴۲**